PROPERTY OF ACKU

DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۰۵۸

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یولسم کال – دویمه دوره، ۱۰۵۸ مه ګڼه، پر له پسې ۲۱۳۳ ګڼه د ۱۳۹۰ ل.د غبرګولي ۱۷ مه – د سې شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هق رجب ۶ مه د ۲۰۱۱ د جون ۷ مه

سخنگوی قوای ناتو

تندروان از پاکستان به افغانستان می آیند

سخنگوی آیساف می گوید که تلفات مُلکی در افغانستان برای آنان مهم است و آنرا جدی می گیرند. جنرال جوزف بلاتس سخنگوی نیروهای آیساف که در کنفرانس خبری دیروز صحبت می کرد، گفت که نیروهای آیساف هیچ گاه عمداً افراد ملکی را مورد حمله قرار نمی دهند. وی افزودکه آنها تلاش دارند، تا باز هم این تلفات را به حد اقل برسانند. اما بلاتس علاوه کرد که تلفات مردم ملکی نسبت به سال های گذشته، به صورت قابل توجهی کاهش یافته است ص۳

افغانستان ته د امریکا د دفاع وزیر د وروستي او مهم سفر موخي

د امریکا دفاع وزیر رابرت ګېټس چې افغانستان ته د خدای پاماني په سفر راغلی، مخکې تر دې چې تقاعد شي پرون له پلازمېنې کابل څخه د جګړې جبهو ته لاړ چې په لېرې پرتو سیمو کې له امریکایي پوځیانو سره ووینې.

د اسوشیتید پریس خبري اژانس د راپور له مخې ګېټس پرون په پکتیکا ولایت کې د پاکستان د پولې ترڅنګ د افغانستان یوې لرې او ډېرې خطرناکې سیمې ته لاړ.

ورمه ورځ دی د افغانستان په جنوب کې د امریکایي پوځیانو دوو اډو ته تللی و، هلته یې له امریکایي سمندري پلیو ځواکونو څخه د طالبانو پرضد د جګړې په خاطر مننه وکړه.

اووه شپېته کلن ګېټس، چې له څلور نیمو کلونو راهیسې د امریکا دفاع وزیر دی، د روان جون په دېرشمه نېټه تقاعد کېږي.

د ده وروستی او یوه مهمه دنده به دا وي چې ولسمشر بارک اوباما ته له افغانستانه د جولای په میاشت کې د ایستل کېدونکو ځواکونو د شمېر په باب خپل نظر څرګند کړي.

ټاکل شوې ده چې د ولسمشر بارک اوباما حکومت په لنډو ورځو کې په دې باب پرېکړه وکړي چې له افغانستانه باید څومره سرتېري وباسي.

راپورونه وایي چې د امریکا حکومت د بودجې له سخت کسر سره مخامخ دی او دا مسئله سبب کېږي چې په افغانستان کې د ځواکونو د شمېر د کمولو ترڅنګ په مختلفو برخو کې مصارف کم کاندي.

د امریکا بودیجه ۱۴ تریلیونه کسر لري (هر تریلیون زر ملیونه کېږي) خو ځینې کارپوهان وایي چې د افغانستان د جګړې لګښت سږکال ټولټال ۱۲۰ میلیارد ډالرو ته ورسېد او له ۲۰۰۱ څخه تراوسه ۳مخ

د کونړ د قبایلو ریاست مدیر ووژل شو

د کونړ ولایت د قبایلو ریاست مدیر او پخوانی جهادي قوماندان پرون سهار په یوه چاودنه کې ووژل شو.

د کونړ د امنیه قوماندانۍ د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې مدیر سمونوال عبدالمتین د غبرګولي پر ۱۶مه وویل، چې چاودنه سهار پر اتو بجو د وټه پور ولسوالۍ د ماشوګل په سیمه کې شوې ده. هغه زیاته کړه، چې د قبایلو ریاست مدیر میرزمان له خپل کور څخه پلی د سړک پر لورې روان و، څو اسعد اباد ښار ته خپلې دندې ته ځان ورسوي.

دی وایي، چې د چاودنې له امله میرزمان ووژل شو او ورسره روان یو بل لاروی ټپي شوی دی. سمونوال متین وویل، چې میرزمان د قبایلو ریاست د مدیر ترڅنګ د وټه پور ولسوالۍ د شوراغړی هم و او له دې مخکې د حزب اسلامي جهادي ګوند اړونده د سیمې مشهور جهادي قوماندان هم پاتې شوی و. وسلوالو مخالفینو تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي. د یادونې ده، چې له دې مخکې هم په کونړ ولایت کې د دولتي مامورینو د تښتونې او وژنې پېښې رامنځته شوې دي.

په هېواد کې د غنمو حاصلات به ۳۰ سلنه ډېروالی ومومي

د افغانستان د کرنې وزارت هیله من دی، چې د جاپان له خوا د اصلاح شویو تخمونو په مرستې به د هېواد د غنمو حاصلات دېرش سلنه ډېروالی ومومي.

د کرنې وزارت د دوشنبې په ورځ له جاپان سره د یوولسو میلیون ډالرو تړون لاسلیک کړ، چې له مخې به یې په هېواد کې بزګرانو ته د غنمو اصلاح شوي تخمونه ورکول کېږي.

د کرنې د وزیر محمد اصف رحیمي په وینا دغه مرستې، چې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره دي، د نړیوالو مرستو له دفتر یا جایکا او د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې د دفتر په تخنیکي مرسته لګول کېږي. د کرنې وزیر محمداصف رحیمي وایي، چې افغانستان باید په خپله د اصلاح ۳مخ

د بلوچستان ایالت په یوه ترافیکي پېښه کې ۱۴ افغانان مړه شول

د افغانستان پولې ته څېرمه د پاکستان په بلوچستان ایالت کې د یوې ترافیکي پېښې له امله ۱۴ افغانان مړه او دوولس نور ژوبل شول.

پېښه پرون د غبرګولي پر ۱۶مه غرمه مهال د کوږک د غره پر سر هغه مهال رامنځ ته شوه، چې له چمن څخه له مسافرو ډک موټر کوېټې ته په لاره کې کندې ته ولوېد.

د پېښې د قربانیانو زیاته برخه افغان مسافر ښودل شوي، چې له افغانستان څخه کوېټې ته را روان وو.

د پېښې د ځای یوه اوسېدونکي نعمت الله سرحدي وویل، چې په پېښه کې څوارلس تنه مړه شوي او شپږ نور ټپیان دي.

هغه زیاته کړه، د پېښې په قربانیانو کې، چې زیات شمېر یې افغانان وو، ښځې او ماشومان هم شامل دي.

خو د سیمې د پولیسو یوه مشر عبدالجبار بیا پژواک خبري اژانس ته وویل، چې په پېښه کې څوارلس تنه مړه شوي او دوولس نور ټپیان دي.

د عبدالجبار په وینا، له چلوونکي او کلینر پرته نور ټول د افغانستان د بېلابېلو ۳مخ

وقتی که اربکی ها عشر بگیرند!

شماری از دهقانان ولایت کندز می گویند که اربکی ها از محصولات آنان به زور عشر می گیرند و اگر برای شان ندهند، تهدید می شوند.

اما اربکی ها می گویند، از اینکه از سوی دولت اعاشه نمی شوند، مجبور اند به خاطر پیشبُرد زنده گی دست به این کار بزنند.

بیش از ۱۵۰۰ تن بنام اربکی در مناطق مختلف ولایت کندز، از طرف حکومت تسلیح و تجهیز شده، تا با نیروهای حکومتی در تامین امنیت مناطق ایشان، همکاری نمایند.

دهقانان می گویند که اربکی ها در وقت برداشتن حاصل، می آیند و ده درصد حاصل آنها را به نام عشر می گیرند.

یارمحمد ۴۰ ساله باشندهٔ منطقهٔ کول دامن ولسوالی امام صاحب می گوید که او در شش جریب زمین زراعتی، جو کاشته بود که حاصلاتش به ۳۰۰ سیر می رسد.

این دهقان به آژانس خبری پژواک گفت: "وقتی که مه حاصلات خوده می گرفتم، اربکی ها آمدن و گفتن که عشر (ده یک) بته، مه انکار کدم، مگر اربکی ها مرا تهدید کدن هر قسمی که میشه باید برای شان عشر بتم."



وی افزود که بالاخره مجبور شد که از ۳۰۰ سیر محصولاتش ۳۰ سیر (یک سیر معادل هفت کیلو گرام) به عنوان عشر بدهد.

یارمحمدعلاوه می کند: "مه خودم شخص غریب هستم، ای درست اس که ما باید از حاصلات خود عشر بتیم، مگر این کار به رضایت خود ماس، نه اینکه کسی بیایه و به زور از ما بگیره، بدون رضایت ما عشر هم نمیشه."

شمار دیگری از دهقانان که هنوز حاصلات زراعتی شان را نبرداشته اند، می گویند که ناگزیر اند، به خواست اربکی ها تن بدهند.

فیض الله کهدر منطقهٔ آقتاش ولسوالی خان آباد ۱۲جریب زمین زراعتی دارد، می گوید که در سه جریب زمینش گندم کاشته و قرار است، تا یک هفتهٔ دیگر، محصولات خود را به دست آرد.

وی می افزاید که اربکی ها در محل برای همه ص۳

که ملا محمدعمر ووژل شي نو بیا؟ ۲

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

گرم شدن هوا، تشدید خشونت ها و افزایش روز افزون تلفات ملکی

با گرم شدن هوا در کشور و تشدید خشونت ها، نهادهای حقوق بشری و سازمان ملل با ابراز نگرانی از این ناحیه، از طرفین درگیر در افغانستان خواسته اند، از بروز تلفات غیر نظامی ممانعت کنند. هشدار این نهادها در این خصوص در حالی مطرح است که در این اواخر میزان تلفات ملکی به اوج خود رسیده است. هم نیروهای خارجی و هم نیروهای مخالف در عملیات و حملات شان در جلوگیری از این امر، خود را مسوول ندانسته و همچنان به رگبار بستن افراد ملکی ادامه می دهند. هرچند قوماندان عمومی نیروهای ناتو و سخنگوی آن روز گذشته در صحبت با خبرنگاران، در افزایش تلفات ملکی طالبان را مقصر دانستند و خاطر نشان ساختند که طالبان از سویی از منازل مسکونی به حیث سنگر استفاده می کنند و از سوی دیگر، با تعبیهٔ بم ها در کنار جاده ها و انجام حملات انتحاری در محل های تجمع عامه دامنه های این فاجعه را گسترده ساخته اند، ولی طوری که طی هفته های اخیر به ویژه در ولسوالی دوآب ولایت نورستان دیده شد، بمباردمان هوایی قوای ناتو به شمول سربازان پولیس ملی، جان ده ها تن از افراد ملکی را گرفت و نیز دو روز پس از آن در ولایت هلمند به شمول چندین زن و کودک ۱۴ تن از غیرنظامیان توسط سربازان ناتو به رگبار بسته شدند. طالبان نیز، طی عملیات انتحاری و انفجاری شان در امر جلوگیری از تلفات ملکی هیچ گونه مرز و سرحدی را مراعات ننموده اند. هفتهٔ گذشته در نتیجهٔ عملیات یک عامل انتحاری در یکی از چهارراه های شهر هرات، ده ها تن از افراد بیگناه رهسپار دیار عدم شدند. از این رو، افزایش بی سابقه در تلفات بیگناه هان و غیرنظامیان نگرانی های جدی را برای سازمان و نهادهای حقوق بشری به دنبال داشته است.

با این حال، مقام‌های نظامی ارشد امریکا پیش بینی می کنند، با توجه به آغاز فصل تابستان که در افغانستان به عنوان فصل درگیری‌ها تلقی می شود، میزان درگیری‌ها میان طالبان، نیروهای امریکایی و ناتو بیش از این افزایش یابد. از اینرو تدابیر نیروهای امنیتی افغان و ناتو هم در پایتخت و هم در دیگر شهرها تشدید یافته و نیروهای بیشتری در پوسته های تلاشی مستقر شده اند و به تلاشی موترهایی که داخل شهر می شوند، می پردازند.

به هر حال، نهادهای حقوق بشر و اداره های مربوط به سازمان ملل در حالی از افزایش تلفات غیرنظامیان در افغانستان ابراز نگرانی می کند که آمار تلفات غیرنظامیان همچنان روبه افزایش است. در سال گذشته میلادی نیز، آمار تلفات غیر نظامیان به بیش از هزار تن رسید و این موضوع انتقادات از عملکرد نیروهای امریکایی و ناتو را در افغانستان به شدت افزایش داد؛ به گونه یی که سازمان ملل نیز، بارها در مورد تلفات غیر نظامیان هشدار داده است. باید گفت که حضور چندین سالهٔ قوای نظامی ناتو و امریکا در افغانستان هیچ کاری را به سر نرسانده است. در ضمن، ناکارآمدی دولت افغانستان در امر کنترول اوضاع امنیتی کشور با گذشت هر روز بیشتر می شود. بنابراین، سازمان ملل و دیگر نهادهای حقوق بشری اگر می خواهند، از تلفات ملکی در افغانستان کاسته شود، باید بر همه طرف های درگیر به ویژه نیروهای امریکایی و ناتو فشار وارد نماید، تا بادرنظرداشت نزاکت ها و حساسیت های موجود جامعهٔ افغانی در امر جلوگیری از تلفات غیرنظامیان توجه جدی نمایند و همچنان جامعهٔ جهانی با اکمال و تجهیز همه جانبه از نهادهای امنیتی افغان و با ایجاد تغییرات عمده و اساسی در ساختارها و فرایند عملکرد آنان، در این راستا دین و مسوولیت های واقعی خود را ادا نمایند. در غیر آن، این فاجعه ها باز هم همه روزه تکرار و همه نظاره گر آن خواهیم بود و بس.

که ملا محمدعمر ووژل شي نو بیا؟

محمدحسن حقیار

تېره اونۍ په کابل کې یوه تلویزیوني چینل د بېړني خبر اعلان وکړ، په خبر کې وویل شول چې د طالبانو د اسلامي تحریک مشر ملامحمدعمر مجاهد ووژل شو.

دخبر سرچینه دافغانستان دملي امنیت کوم مامور و چې دې رسنۍ یې نوم نه و خپور کړی او ویلي یې وو چې دوی ته دور رسېدلیو معلوماتو له مخې، د پاکستان دای اس ای درې تنه مامورین په شخصي جامو کې دملامحمدعمر مجاهد استوګنځي ته ورغلل، ظاهراً یې هغه ته وویل چې په پاکستان کې د امریکایانو په لاس دعرب مجاهدینو دمشر اسامه له وژنې وروسته په پاکستان کې دملامحمدعمر دشتون په اړه پردوی فشار ډېر دی او ددوی تجویز دادی چې په لنډ مهاله توګه هغه دافغانستان کوم ولایت ته ولېږدوي او کله چې حالات ښه شول نو بېرته به یې پاکستان ته راولي، دې سرچینې وویل چې کله ملامحمدعمر له دوی سره روان شو، نو دوی د پاکستان د استخباراتو (ای اس ای) پخواني مشر جنرال حمید ګل ته وسپاره، هغه له کویټې څخه شمالي وزیرستان ته راروان کړ چې پر لاره کې پرې د حمید ګل په خوښه دای اس ای افرادو برید وکړ او هملته یې وواژه.

داخبر ژر ډېر خپور شو، وروسته دافغانستان داستخباراتو ویاند هم له رسنیو سره داخبر په ډېر خوند زمزمه کړ.

خو دطالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد له رسنیو سره د بېړنۍ اړیکې په ترڅ کې ډېر ژر داخبر رد کړ، مجاهد په پاکستان کې دخپل مشرشتون هم رد کړ او ویې وویل چې ملامحمد عمر مجاهد په افغانستان کې دی او له هماغه ځایه دبهرنیو پر ضد دهغه په وینا جهاد رهبري کوي.

همداراز جنرال حمید ګل هم په هماغو لومړنیو شېبو کې بي بي سي ته وویل چې هغه پخپل کور کې دی نه له ملامحمدعمر سره چېرې تللی او نه یې وژنه مني. هغه هم وویل چې دطالبانو مشر په افغانستان کې دی. بلاخره له څو ساعتونو وروسته جوته شوه چې داخبر دروغ دی، خو څومره چې حقایق را برسېره کېدل په دې اړه دافغانستان داستخباراتو دادارې شاتګ محسوسېده.

وروسته یې دهغه دوژنې له خبر څخه یو سل او اتیا درجې شاتګ وکړ. او ویې ویل چې دوی همدومره مني چې ملامحمدعمر له کویټې څخه وزیرستان او یا کوم بل ځای ته لېږل شوی دی او دهغه وژنه سل په سلو کې تائیدولی نه شي. زه دانه وایم چې دافغانستان دامنیت اداره ولې دروغ وایي، په جګړه کې دروغ معمول وي او دافغانستان دامنیت اوسنۍ اداره خوله دروغو پرته چلېدلی نه شي، خو دومره توصیه ورته کوم چې که دروغ هم وایي نو لږ خودې یې په شرع روغ ووایي. داسې دروغ به څوک څه کړي چې سمدستي یې شرموي. داسې دروغ دې ووایي چې کم ترکمه ژر خو رسوا او نوم بدې نه شي. دې دروغو څو څو دقیقې هم دوام ونه کړ.

له دې خبر او دملي امنیت له دې شاتګ سره سړي ته هغه دروغجن ورپه یاد شي چې په کلي کې یې ویلي وو، چې په ځنګله کې یې زمری ولیده. کله چې کلیوالو راټینګ کړ چې دلته زمری نه شي اوسېدلی بل څه به دې لیدلي وي، نو هغه ورته وویل خیر چې زمری نه و نو لېوه به و. کله یې چې بیا راټینګ کړ چې لېوه هم دلته راتللی نه شي، داځنګل کلي ته ډېر نږدې دی بل څه به دې لیدلي وو نو اخرېې ورته وویل. ((والله څه ووایم لوښی خوخوځېدلی.)) دوی هم له دومره ډرامې دې ته راښکته شول چې خیر له کویټې څخه خو یې روان کړی دی.

خو ددوی پر دې خبره هم باور ځکه سخت دی چې کله دوی دومره خبر او ملامحمدعمر دومره ددوی تر کلک څار لاندې وي نو ولې یې خپله او یاد خپلو ملاتړو بهرنیو ځواکونو په زور نه نیسي او یا نه وژني. تراوسه لا داسامه دوژلو ډرامه دنړۍ د رسنیو پرسکرین چلېږي دوی غواړي چې د مخالفینو روحیات کمزوري کړي، نوځکه یې د ملامحمدعمر دوژلو اوازه خپره کړه. د افغانستان په جګړه کې یو پلو هم ارزښتونه او د جګړې اخلاقي اصول په پام کې نه نیسي، نوځکه د جګړې د یوه اړخ په توګه داډول پروپاګند خپل حق بولي، خو داحق باید دوی د حیثیت په بیه تمام نه شي او نه اوازې او خوشبینۍ، نېک او بداحساسات پر حقایقو اغېز پرېباسي. دګوړې ګوړې په ویلو دچاخوله نه خوږېږي. په کار ده چې له واقعیتونو او حقایقو سره معقول او منطقي چلند وشي.

دملامحمدعمر وژنه به دکوم درد درمل شي؟

هر انسان مرګ ته پیدا دی دالله ج له ذات پرته دبشر په شمول ټول کاینات فاني دي ملامحمدعمر او اسامه هم انسانان دي هرومرو به مري، طالبان او دالقاعده غړي دعلماوو او ددین دطالبانو په توګه پردې حقیقت ښه پوهېږي چې یو انسان هم نه پاتې کېږي، هغوی دالله ج له دې وینا ښه خبر دي چې خپل رسول ص ته فرمایي: یقیناً ته هم مرې او دوی هم مري.

خو آیا د دوی وژنه به د ستونزې پای وي، د طالبانو او دالقاعده د خوځښت دمشرانو په توګه داسامه او ملامحمدعمر مجاهد وژنه به له شک پرته د دوی دافرادو پر روحیاتو اغېز کوي او دا دهر انسان په طبیعت کې نغښتی حقیقت دی، خو دااغېز به دومره نه وي چې د کارپای وبلل شي.

نه القاعده داسامه شخصي جریان دی او نه هم د طالبانو تحریک دملامحمدعمر شخصي پوځ او کرایي لښکر دی، بلکې ټول پوهېږي چې دا دواړه منظم تیوریک خوځښتونه او دیوې مذهبي او عقیدوي نظریې خاوندان دي.

دطالبانو حرکت د ملامحمدعمر په ژوند او مرګ پورې تړلی نه دی، داحرکت اوس په افغانستان او پاکستان کې ډېرې ژورې ریښې او په نړۍ کې ډېر ملاتړي لري. دې جریان اوه کاله حکومت او لس کاله د نړۍ له لویو ځواکونو (امریکا او ناټو) سره جګړه کړې ده او دې لویو ځواکونو ته یې د سر په کاسه کې اوبه ورکړې دي. القاعده هم دامریکا په وینا، د نړۍ په شپېتو هېوادونو کې څانګې او تشکیلات لري، د دومره پراخو تشکیلاتو سنبالول هوښیار او تکړه مشران غواړي او که په القاعده کې دا ډول باکفایته مشران نه وای، نو دا لوبه دومره ګرمه نه ساتل کېدله. ومولیدل چې داسامه د حذف له اعلان وروسته د دې پرځای چې جګړه ټکنۍ شي لا هم ژبغړانده او توپاني شوه. داسامه پرځای له هغه ډېر احساساتي، سخت دریځی او بنسټپاله مسلمان ځوان سیف العدل (دعدالت توره) وټاکل شو چې هېڅ ډول سازش او کمپرومایز نه مني.

که ملامحمدعمر هم له روانو پېښو حذف شي نو ګومان نه کوم چې له دې حذف سره به دافغانستان کړکېچ پای ومومي او دښمنان به یې دارامۍ ساه واخلي. ښایي له ده وروسته هم ترده ډېر سخت دریځی، انعطاف او جوړښت نه منونکی ځوان دطالبانو مشر وټاکل شي، چې که داسامه او ملامحمدعمر په وخت کې دهغوی دښمنان له مخې حلالېدل او مړی یې غوځېدې ښایي ددوی خلیفه ګان یې دشاله لارې حلال او څټونه غوڅ کړي. که دصدام حسین له اعدام او ابومصعب زرقاوي له وژلو وروسته عراق امن شوی او یا جګړه پکې سسته شوې وي، که داسامه، بیت الله مسعود او نورو مولناګانو له وژلو او د ملابرادر په څېر د نورو طالب مشرانو له نیولو وروسته په افغانستان کې جګړه سسته شوې وي نو د ملامحمدعمر وژل به هم اغېزمن وي. خو چې کله ددوی دیوه سیاسي او فزیکي وجود حذف هم ددوی دښمنانو ته ګټه نه ده کړې نو دملامحمدعمر وژل به څه ګټه وکړي؟ ترڅو چې دافغان ولس ارادې او غوښتنې ته پام ونه شي، ترڅو چې دافغانستان او سیمې له ذهني او عیني واقعیتونو سره معقول او منطقي چلند ونه شي، ترڅو چې دجګړو داصلي انګېزو او عواملو په له منځه وړلو فکر ونه شي، ترڅو چې نړیوال ځواکونه او وسلوال مخالفین دواړه دافغانانو ژوند، دود او دستور ته درناوی ونه کړي، ترڅو چې دواړه خواوې افغان ولس ۳مخ

د امریکا دفاع وزیر د خپل وروستي او ...

پورې نیم تریلیون ته نه رسېږي نو امریکایي چارواکي بنایي له افغانستان څخه د ځواکونو د ایستلو تر تاوان د نه ایستلو تاوان ځان ته ګټور وبولي.

ګېټس امریکایي پوځیانو ته په وینا کې وویل، د اسامه بن لادن له وژل کېدو سره سره لا ژر ده چې له افغانستانه ځواکونه وباسو.

ده د پکتیکا په مرکز شرنه کې د څو سوو امریکایي پوځیانو غونډې ته وویل: «باید پر طالبانو نور پوځي فشار زیات شي څو دوی د سولې د خبرو اړتیا احساس کړي. موږ لا دلته بېغمه شوي نه یو.»

ده همدا راز وویل: «لا ډېر وختي دی چې وویل شي ایا د بن لادن وژل کېدو د افغانستان پر جګړې اغېز کړی او که نه دی.»

امریکا له دوه زره لومړي څخه تراوسه پورې په افغانستان کې پر جګړې او پوځي هلوځلو څه باندې څلور سوه میلیارد ډالره لګولي. د امریکا مصرف په وروستي یو کال کې زیات شو چې په افغانستان کې یې د خپلو ځواکونو شمېر نژدې یو لک تنو ته ورساوه.

د پینټاګون سرچینې وایي چې تراوسه پورې امریکا د افغانستان پر امنیتي ځواکونو (پولیس او ملي اردو) پنځوس میلیارد ډالره لګولي چې نیمایي یې د دغو ځواکونو پر روزنې لګولي او نیمایي نورې یې د دوی پر وسلو او تجهیزاتو مصرف کړي دي.

د بلوچستان ایالت په یوه ترافیکي ...

ولایتونو او سېدونکي دي، چې کوېټې ته روان وو.

د ده په خبره، پولیس او مرستندویه ځواکونو دغه مهال ټپیان د چمن ملکي روغتون ته لېږدولي دي.

جبار د پېښې لامل د چلوونکي بې پروایي وبلله. د کوېټې او چمن تر منځ سړک له ډېرې مودې راهیسې خام او کنډکپر دی، چې وخت ناوخت په کې ترافیکي پېښې رامنځ ته کېږي. په دغې لویه لار هره ورځ لسګونه زره تنه تګ راتګ کوي او زیات شمېر یې هغه مسافر وي چې له افغانستان څخه کوېټې او له کوېټې افغانستان ته ځي.

پارلمان باید با نفس خود ...

را برای تعیین اولویت ها می رباید، برای آنها پارادوکس عمل مشترک می آفریند.

آنها بنا بر دلایلی نمی توانند، در آن حد اکثریت قانونی قرار گیرند، تا بتوانند، موثر و هدفمند عمل نمایند.

غیر از صلاحیت های تسجیل شده در قانون اساسی، پارلمان مشروعیت و قدرت خود را از حقیقت نماینده گی از مردم بدست می آورد.

بدین ترتیب، پارلمان در پرنسیپ دو منبع قدرت را در اختیار دارد: منبع قانونی و منبع مردمی.

عدم توانایی وکیل، مجلسین پارلمان و پارلمان را باید در خود منفعت جویی تعداد زیاد نماینده گان و وابستگی های گروپی جستجو نمود.

مبارزۀ نماینده گان مردم با نفس شان یک امر اسلامی بوده و باید نفع جویی فردی و گروپی نماینده گان راهدف مبارزه قرار دهد و مبارزه بانفس پارلمان باید دستیابی به اولویت قرار دادن منافع ملی و مصالح علیای کشور را هدف قرار دهد.

وقتی که اربکی ها عشر ...

دهقانان گفته اند که باید برای شان عشر بدهند.

این دهقان گفت: برخی مردمی که حاصلات خود را برداشته اند، برای اربکی ها عشر داده و او نیز تصمیم دارد، هر گاه حاصل خود را بردارد، به اربکی ها عشر بدهد.

فیض الله علاوه می کند: "اربکی ها ده مسجد به همگی اعلان کدن که باید برای شان عشر بتیم و ای امر حتمی اس."

او می گوید که اگر برای اربکی ها عشر ندهد، بالاخره به زور از وی عشر خواهند گرفت، پس به همین خاطر، بهتر خواهد که بدون جنجال و دعوا برای شان عشر بدهد.

دهقانان کندز با آنکه به علت تهدیدهای امنیتی از قوماندانان اربکی نام نمی گیرند، اما می گویند که از این ناحیه چندبار به مسوولان شکایت کرده اند، اما تابه حال هیچ جایی را نگرفته است.

اما اربکی ها می گویند که مجبور اند، به خاطر پیشبُرد زنده گی خود، دست به این کار بزنند. غلام حضرت که حدود شش ماه قبل به پروسۀ صلح پیوسته و در حال حاضر، به حیث قوماندان اربکی در منطقۀ آق مسجد ولسوالی امام صاحب فعالیت دارد، می گوید که مردم به رضایت خود به آنان کمک می کنند. این قوماندان گفت که آنان هیچ گاهی از کسی به زور عشر نگرفته اند، بلکه مردم به رضایت خود به خاطر فعالیت مثبت و تامین امنیت در منطقه، به آنان کمک می کنند و برای شان عشر می دهند. قوماندان غلام حضرت علاوه می کند: "دولت برای ما گفت که شما اربکی شوید، شما شامل پولیس محلی می شوید و برای تان معاش و اعاشه داده می شود، اما حالا من ده نفر دارم و دولت از یکطرف برای من می گوید که با طالبان جنگ کنم و از ساحۀ خود محافظت کن، ولی از سویی برایم هیچ کمکی نمی کند، پس من مجبور هستم به خاطر اعاشۀ خود و همکارانم از مردم کمک بگیریم." نامبرده می گوید که اگر دولت برای آنان اعاشه بدهد و آنها را اکمال کند، هیچ دلیلی برای گرفتن عشر وجود نخواهد داشت. محمد ایوب حقیار ولسوال امام صاحب نیز می گوید که اگر اربکی ها شامل پولیس محلی شوند و برای شان معاش و اعاشه داده شود، پس این بهترین راه جلوگیری از گرفتن عشر خواهد بود. اوضمن تایید شکایات مردم در مورد گرفتن عشر از سوی نیروهای اربکی گفت: "برخی مردم برای ما شکایت کرده که اربکی ها از آنان به زور عشر می گیرند و ما هم بعد از دریافت شکایت آنان اقدام جدی کردیم و جلو آنان را گرفتیم، اما در برخی ساحات مردم به رضایت خود، به اربکی ها عشر می دهند که ما از آن به شکل رسمی خبر نمی شویم." در عین حال، سید سرور حسینی سخنگوی قوماندانی امنیه کندز می گوید که آنان از قبل هشدار داده اند که هیچ کس نمی تواند، از مردم بنام عشر و یا کدام نام دیگر، چیزی بگیرد. او علاوه می کند که تا به حال در این مورد کدام شکایت رسمی، از سوی مردم به آنها نرسیده، در صورتی که چنین شکایتی مواصلت ورزد، اقدام جدی خواهند کرد. حسینی گفت: "ما چند بار از طریق تلویزیون محلی و هم از طریق قوماندانی مربوط به مردم اطلاع داده ایم که نباید به کسی بنام عشر چیزی بدهند، اگر کسی از آنها به زور عشر می گیرند، باید به مسوولان امنیتی مراجعه کنند و مسوولان امنیتی موظف هستند، تا با همچو اشخاص و لو هر کسی باشد، برخورد جدی نماید." از جانب دیگر، سمونوال عبدالرحمن آقتاش آمر امنیت قوماندانی امنیۀ کندز می گوید که آنها کدام بودجۀ خاصی ندارند که اربکی ها را ماهوار اعاشه نمایند. اما بعد از آنکه اربکی ها شامل پولیس محلی می شوند، برای شان معاش و اعاشه داده خواهد شد. او خاطر نشان کرد که به زودی جای اربکی ها را پولیس محلی خواهد گرفت. برای کندز تشکیل ۱۲۰۰ نفری پولیس محلی تخصیص یافته و تا حال ۱۰۵نفر رسماً شامل پولیس محلی گردیده اند. پولیس محلی در چوکات وزارت داخله رسماً تنظیم بوده و هر یک ماهانه شش هزار معاش و سه هزار اعاشه از دولت دریافت می کند. قبل از این، تعدادی از مردم کندز شکایت داشتند که اربکی ها به زور پول و موبایل آنها را می گیرد و در برخی موارد آنها را لت و کوب نیز، می نمایند. آنها می گفتند، با وجودی که کندز در این اواخر از وجود مخالفان مسلح دولت تصفیه شده، اما اگر وضعیت به همین گونه ادامه یابد، مردم از دولت فاصله خواهند گرفت و زمینۀ برگشت مخالفان مسلح مساعد خواهد شد. قابل ذکر است که شماری از مردم کندز، سال گذشته از گرفتن عشر توسط طالبان مسلح نیز، شکایت می کردند و می گفتند که اگر به طالبان عشر ندهند، مورد آزار و اذیت قرار می گیرند و لت و کوب می شوند. اما طالبان می گفتند که آنها از مردم به زور عشر نمی گیرند، بلکه مردم به رضایت خود به آنها عشر می دهند.

په هېواد کې د غنمو حاصلات به ...

شویو تخمونو په برابرولو کې هڅه وکړي: (د بذري تخمونو په وېشلو سره به له ۲۰ تر ۳۰ فیصدو پورې کرنیز حاصلات لوړ شي او همداسې چې او به هر کله ووېشل شي، همداسې چې د ناروغیو مخنیوی کېږي، بذري تخمونه هم باید هر کال ووېشل شي.

موږ داسې سیستم جوړ کړو، چې اصلاح شوي بذري تخمونه په خپله تولید کړو، داسې تخمونه معرفي کړو، چې د ناروغیو پر وړاندې مقابله کوي شي او دا ډول تخمونه له نړۍ څخه هېواد ته وارد کړو، دا د کرنې وزارت دنده ده.) د کرنې وزیر محمد اصف رحیمي زیاته کړه، چې افغانستان هر کال په ۷۵۰ میلیون ټنه غنمو ته اړتیا لري، چې له ګاونډیو هېوادونو څخه یې پلوري. د کرنې وزیر همدا راز وویل، چې اصلاح شوي تخمونه به لومړی د کندز، تخار، بلخ، ننګرهار او کندهار په ولایتونو ووېشل کېږي. د کرنې د تولید او ظرفیت د لوړولو لپاره هڅې په داسې حال کې روانې دي، چې د جاپان سفیر ریچیرو تکاهاشي وایي، هېواد یې هڅه کوي، چې له افغانستان سره د کرنې په برخه کې خپلې مرستې نورې هم پراخې کړي: (موږ هیله من یو، دا پروژه، چې پلې کوو یې، یوازې د اصلاح شویو تخمونو په وېشلو پورې محدوده پاتې نه شي، بلکې هڅه کوو، چې د دغې پروژې له لارې د بزګرو او د کرنې د وزارت کاري ظرفیت په بېلابېلو برخو لکه په اوبه لګولو او کرنیزو محصولاتو په وده کې لوړ کړو.) ښاغلي تکاهاشي وایي، چې تېر کال یې هم شاوخوا ۵۰ میلیون ډالره د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې د سازمان په واک کې ورکړې وې، چې د افغانستان د کرنې په برخه کې ولګول شي. په عین حال کې د افغانستان لپاره د امریکا په پنځه کلنه ستراتیژۍ کې هم ټینګار شوی، چې د دغه هېواد کرنې برخې ته زیاته پاملرنه وشي، تر څو د غلو تولید له پلوه په ځان بسیا شي. خو افغان بزګر په دې باور دي، چې دا وبولګولو د منظم سیستم، د پرمخ تللو کرنیزو سامانونو او د هېواد په بېلابېلو برخو کې د کرنیزو محصولاتو د ساتنې لپاره د سړخونو نشتوالی د دې لامل شوی، چې د کرنیزو حاصلاتو په ډېروالي کې ستونزې پیدا شي. خو د کرنې وزارت وایي، چې د ظرفیتونو د لوړولو او له نوېو ټکنالوژۍ سره د بزګرانو اشنایي او د نړیوالې ټولنې د مرستو د جلبولو لپاره یې هڅې روانې دي.

که ملا محمدعمر ووژل شي ...

خپل دښمن او دسزاوړ ګڼي که یو ملاعمر ووژل شي سل نور پیداکېږي، که یو پټریوس ووژل شي نو دسلو نورو راتګ ته به پلمه جوړه وي.

ترڅو چې دامریکا په کلیساګانو کې عظیم الشان قران سوځول کېږي، ترڅو چې په د نمارک او هالند کې د مسلمانانو د ګران پیغمبر کاریکاتورونه جوړېږي، ترڅو چې لوېدیځ داسراییلو له غاصب او ظالم رژیم څخه ناحقه دفاع کوي، په اسلامي نړۍ کې یې دالپوه خوشې کړی او دوی ته یې توري په لاس ورکړې او فلسطینیان یې ورته ړلې وي. ترڅو چې دامریکا نامسلمان پوځونه دحرمینو په سپېڅلې خاوره کې پراته وي، او ترڅو چې داسلامي امت حیثیت او شخصیت دلوېدیځ ښکیلاکي ائتلاف له ګواښ سره مخ او ترڅو چې بوش او بوشان د صلیبي جګړو ډول وهي نو داتمه دې نه کوي چې دملاعمر او اسامه په وژلو به دوی او یا نړۍ، دارام ساه واخلي. افغان حکومت ته دامشوره ورکوو چې خپلې ستونزې دې د نړۍ له ګډو ستونزو سره نه ګډوي او نه دې افغانستان د نورو د شوموموخو قرباني کوي. دوی ته جوته شوه چې نور ورته وطن نه ابادوي او نه له دوی سره رښتونې او بې مطلبه یارانه کوي، همدا نن یې که لاړې تېرې او مطلب پوره شو نو نه بیا دافغانستان په کیسه کې دي او نه دافغان حکومت، نو په کار ده چې دې ستونزې ته معقول او اسانه حل وموموي او اسانه او منطقي حل دملامحمدعمر وژل نه دي، بلکې دجګړې عوامل له منځه وړل، واقعیتونو ته غاړه ایښودل، له مخالفینو سره تفاهم او سوله او پرواک د انحصار فکر له سر نه لرې کول دي. زه په پوره مسوولیت سره وایم چې همدا اوس هم ملامحمدعمر کرزي ته ترهغه احترامه ډېر احترام لري چې اوباما یې ورته تظاهر کوي او تراوباما پرې ډېر درد ېږي، ځکه دواړه مسلمانان او د یوه هېواد بچي دي. زه کرزي ته د مجاهد رهبر او ارواښاد مولوي خالص خبره وریادوم چې ویلي یې وو موږ به له شورویانو د نور محمد تره کي دوینې پوښتنه هم کوو، ځکه چې هغه افغان و، هغوی څه حق درلود چې ترکی یې واژه. لکه څنګه چې کرزي ته د ملامحمدعمر په احترام قانع یم او باوري یم چې که خدای مه کړه دامریکایانو په لاس ووژل شي، نو د مولوي خاص غونډې به یې ترې د وینو پوښتنه کوي، همدا راز هغه ته د کرزي پر احترام هم قانع یم او باوري یم چې دداړ په صورت کې تر اوباما ورته ډېر دردناوی لري. نو په کار ده چې حکومت هر افغان د دې خاورې بچی او دې وطن ته مخلص وبولي او پر مرګ یې اتڼ ونه کړي، بلکې ساندې ووایي. پر طالبانو هم غږ کوم د دې لپاره چې افغان حکومت پرې د سولې په اړه باور وکړي، باید خپل حسن نیت ورته څرګند او د سولې شرایط ور ته نرم کړي. باید دواړه خواوې ملت ته ثابته کړي چې ستونزې دوی نه دي جوړې کړي. کرزی، طالبان دلته د بهرنیو پوځونو د شتون عوامل بولي او وایي چې که د دوی وسلوال و مخالفت نه وي، نو امریکایان وځي او طالبان وایي چې امریکایي پوځونه او ناټو کرزي راوستي دي. دلته خلکو ته هغه چستان ستر ګوته ودرېږي چې وایي: (هګۍ مخکې پیداشوې او که چرګه). دواړه خواوې باید د بهرنیو په پرتله خپلو هېوادوالو ته ډېر اهمیت ورکړي، ډېر باور پرې وکړي او پردې دې پوه شي چې پردي نه خپلېږي او که لږ تنازل او حوصله وشي خپل خپل دي.

تندروان از پاکستان به افغانستان می ...

و آماری که سازمان ملل متحد آنرا نشر نموده است نیز، این مسأله را به اثبات می رساند.

وی در مورد این آمار چیزی نگفت، اما گزارش سالانۀ کمیسیون مستقل حقوق بشر و یونما نشان می دهد که بیش از ۲۷۰۰ فرد ملکی در جریان جنگ های مسلحانه در سال ۲۰۱۰ میلادی در افغانستان به قتل رسیده اند که در مقایسه با یک سال قبل آن ۱۵ درصد افزایش داشت. طبق این گزارش، از این جمله ۱۱۴۱ فرد ملکی در نتیجۀ حملات انتحاری و مواد انفجاری تعبیه شده توسط مخالفان دولت و ۴۴۰ تن که ۱۶ درصد مجموع تلفات ملکی را نشان می دهد، توسط نیروهای خارجی به قتل رسیده اند. سخنگوی آیساف در این کنفرانس خبری گفت که نیت آنها این نیست که تلفات ملکی برای شان مهم نبوده، آیساف آنرا جدی گرفته و خود را با نگرانی رییس جمهور افغانستان شریک می داند. براساس معلومات بلاتس، ۸۶ درصد تلفات مردم ملکی توسط مخالفان مسلح دولت صورت می گیرد و تلفات مردم ملکی، برای مخالفان اهمیت ندارد. سخنگوی آیساف در کنفرانس خبری دیروز به جواب سوالی در مورد جلوگیری از آمدن رهبران مخالفان مسلح از پاکستان به افغانستان گفت که دهشت افگنان، سعی دارند، تا به افغانستان بیایند و پاکستان نیز، برای جلوگیری آنان در مرزهای خود در حدود ۱۴۰ هزار نیروی خود را فرستاده است و امید وارند، تا از آمدن آنان به به این طرف جلوگیری شود.

ACKU

پارلمان باید با نفس خود مبارزه نماید

نگارنده : دکتراندس م. نبی هیکل

قسمت دوم

درقسمت اول استدلال شد که هرگاه پارلمان توانایی تعیین اولویت و حل پارادوکس عمل مشترک را کمایی نماید می تواند، به صورت موثر و هدفمند فعالیت نماید.

این دو عامل چگونه برکار پارلمان اثر می گذارد؟

پارلمان ابزار سیاسی نیرومندی در اختیار خواهد داشت، هرگاه:

۱) توانایی تعیین اولویت های کاری را دارا باشد و

۲) پارادوکس عمل مشترک را بتواند حل نماید.

عدم توانایی تعیین اولویت ها بیشتر به توانایی و قابلیت به درک از منافع ارتباط دارد، تا به آنچه ویلیام ارو ارتباط می دهد، زیرا شواهدی مانند اولویت دهی به منافع فردی و گروپی وجود دارد که برآن می تواند، این بیان را استوار ساخت.

شواهدی وجود دارد مانند فیصلهٔ پارلمانی در مورد فراموشی گذشته و جنایات مربوط به آن و اخیراً موضعیگیری مشترک در برابر محکمهٔ اختصاصی که نشان می دهد، اتخاذ موضع مشترک از سوی پارلمان ممکن بوده است.

توانایی تعیین اولویت های کاری:

فکر می کنم که اساس تعیین اولویت را خواست و ارادهٔ فردی تشکیل می دهد. حتا اساس ارزیابی مقایسوی گزینش ها را اغلب خواست و ارادهٔ تصمیم گیرنده می سازد. ویلیام آرو توانایی و عقلانیت فرد/گروپ را بر اساس معیارهای قابل مقایسوی بودن و تناسب منطقی ارجحیت های تعیین شده در نظر دارد. در حالی که در زنده گی روزمره کمتر از فورمول آرو استفاده می شود، انسان ها در موارد زیاد به نفع خود محاسبه می نمایند، زمانی که به خریداری ها می پردازند.

نماینده گان مردم در پارلمان بدون شک این مسأله را درنظر می گیرند که نخست به چه کاری باید بپردازند. معیار تعیین اولویت کاری ممکن است، منافع کوتاه مدت یا دراز مدت فردی یا گروپی و یا منافع کوتاه مدت یا دراز مدت ملی قرار داده شود. انتخاب یکی از این دو، تفاوت بزرگی را در کار به وجود می آورد.

در سطوح فردی، خدمات فردی و در سطوح گروپی خدمات گروپی ممکن است، به دلیل نزدیکی فاصله میان نماینده با افراد و گروپ، نتایج ملموس و زودرس را موجب گردد، مگر به حیث دستاورد نمایندهٔ مردم نمی تواند، شمرده شود؛ زیرا این دستاورد فردی و گروپی اند. کیفیت و ماموریت نماینده گی در چنین حالت به سطوح فردی و گروپی تنزل داده می شود و با آن یکجا با درنظرداشت نوعیت و ماهیت کار انجام شده، حیثیت و شایستگی نماینده تنزل می نماید. نماینده ممکن است، کمیشنکار، رشوه ستان و یا قوم پرست و .... تلقی گردد.

موضعگیری فرد نماینده نه تنها می تواند، موضعگیری جمع نماینده گان را از راه حضور فزیکی برای تکمیل نصاب و ابراز رای متاثر گرداند، بلکه از راه موضعگیری های تعصب آمیز و تبعیض طلبانه گروپی نیز، متاثر سازد. در اینجاست که رابطهٔ کار فردی با موثریت کار جمعی برملا می گردد.

برای برخی ممکن است، درک از منافع به دلیل موجودیت "شعور کاذب" دشوار باشد، در حالی که برای برخ دیگری منافع شخصی و گروپی به ترتیب در اولویت قرار گیرند. اتکای کامل براین دو منافع با وجود جاذبه و کارآیی، دشواری های اعتقادی و انسانی دارد.

خدمات نماینده گان از این دو کانال می تواند، به داعیهٔ عدالت و انصاف ممد واقع شود و یا آنرا زیانمند سازد.

حقیقت دیگر این است که نماینده گان در پارلمان نمی توانند، بیرون از چهارچوب های گروپی (قومی/حزبی) فعالیت نمایند، بخصوص در افغانستان که از یکسو جامعهٔ ارگانیک و اعتماد غلیظ و خود نفع خواهی نیرومند اند و از سوی دیگر، احزاب سیاسی نیرومند ملی و شخصیت های سیاسی ملی وجود ندارند و به این احزاب در سیستم تصمیم گیری سیاسی رسماً حق شرکت داده نشده است.

در پرنسیپ احراز مقام و امتیازات قانونی مربوط به آن، افتخار نماینده گی از مردم و خدمتگزاری به مردم و کشور بزرگترین افتخاراتی است که متضمن افتخارات دنیوی و اخروی می باشد.

در حالی که به حیث نمایندهٔ مردم وظیفه دارد و مسوولیت دفاع از منافع مردم را برعهده دارد، نمایندهٔ مردم در پارلمان هم برای دفاع از منافع فردی و گروپی و هم در اولویت قرار دهی منافع ملی، به وجدان پاک نیاز دارد؛ زیرا در هر دو حالت می تواند، به امر نماینده گی از مردم خیانت نماید.

۲) پارادوکس عمل مشترک:

پارادوکس عمل مشترک به مسأله یی که قبلاً در بر آن مکث شد بی ارتباط نمی باشد. دو مسألهٔ عمده در این رابطه قابل تامل بیشتر دانسته می شود: گروپ های پارلمانی و فعالیت های پارلمانی. منظور از گروپ های پارلمانی عبارت از دسته های متشکل از اعضای پارلمان اند که بر اساس منافع و موضعگیری های فکری شکل داده شده اند. در پارلمان قبلی در مجلس نماینده گان تعدادی از گروپ های پارلمانی وجود داشت. در آغاز چهار گروپ (استقلال ملی، نظارت ملی، ترقی خواه و افغانستان) پارلمانی بر اساس مقررهٔ اصول و وظایف داخلی ایجاد و ثبت گردید و به دلایلی از هم پاشیدند. این دلایل عبارت بودند از:

* تصادم منافع حوزه های انتخاباتی،
* ماهیت موضوعات مورد بحث در ولسی جرگه،
* وابستگی های قومی و سیاسی اعضای گروپ پارلمانی.

گروپ دیگری بعداً به نام "خط سوم" ایجاد شد که بعداً آنها به دلایلی مانند تنوع افکار و منافع، غیرفعال گردید (حسن وفایی و انا لارسن، ولسی جرگه در ۲۰۱۰ .ص. ۹.واحد تحقیق و ارزیابی افغانستان).

از ارزیابی یادشده این نتیجه گیری را می توان به دست آورد که اختلاف منافع و وابستگی های گروپی دو دلیل عمده از هم پاشیده گی این گروپ ها بوده اند. هرگاه این مسأله را با عمل مشترک مجلس در رابطه با الغای محکمهٔ اختصاصی انتخاباتی مقایسه نماییم، درمی یابیم که تیوری مانکیور اولسن کار می کند و زمانی که تعدد احزاب را در افغانستان در نظر می گیریم، این تیوری نمی تواند، مسأله را توضیح نماید. مجلسین پارلمان همچنان نتوانستند، در رابطه با فرمان رییس جمهور در مورد تعدیلات در قانون انتخابات مطابق مادهٔ صدم کار مشترکی انجام دهند.

حل مسایل کلیدی ملی مانند نظارت بر اعمال حکومت بخصوص زمانی که حکومت باید به رعایت قانون وادار گردد و یا بازخواست از مسوولان امور و محاکمه آنان لازم افتد، تنها زمانی می تواند، صورت گیرد که مجلسین پارلمان تنها در محور منافع ملی ومشترکاً عمل نمایند.

بدین ترتیب، ما با دو مسألهٔ عمده رو به رو هستیم:

نخست اولویت منافع فردی و گروپی/حزبی و

دوم فقدان ساختارهای واقعاً ملی.

چه ابزاری پارلمان برای اعمال فشار بر حکومت در دست دارد؟

تجربهٔ پارلمانی جمهوری چهارم (۱۳۸۱ –به بعد) مثال هایی را به یاد دارد که آنها را در چند دسته می توان طبقه بندی نمود.

۱. دستهٔ اول شامل رویدادهایی است که در آن پارلمان نتوانسته از قانون شکنی قوهٔ اجراییه جلوگیری نماید و یا آنرا وادار به رعایت قانون نماید: تعویق انتخابات، قانون شکنی های قوهٔ اجراییه و ادارهٔ وزارتخانه ها به وسیله سرپرستان از زمرهٔ مثال هاست.

۲. دستهٔ دوم عبارت از رویدارهایی است که به انفاذ و توشیح قوانین مرتبط است: فرمان اخیر رییس جمهور در رابطه با تعدیلات در قانون انتخابات، قانون رسانه ها مثال هایی از این کتگوری است.

۳. دستهٔ سوم اقدامات مستقلانهٔ مجلسین یا پارلمان را در مجموع احتوا می نماید. مادهٔ۹۱،۹۰، ۹۲، ۹۴، ۹۷، مادهٔ صدم قانون اساسی، مواد ۶۶ و ۶۹ قانون اساسی.

قانون اساسی افغانستان اختیارات لازم را برای قوهٔ مقننه واگذار کرده که آنرا در بسیاری از موارد توان می بخشد، به حیث مظهر ارادهٔ مردم نقش خود را ایفا نماید.

در واقعیت امر، همان مشکلی که توانایی مجلسین ص۳

کنوانسیون منع شکنجه و سایر رفتارها و مجازات ظالمانه، غیر انسانی یا تحقیر آمیز

ماده چهاردهم: ۲– هیچ موردی از اجرای این ماده مبنی بر اعاده حقوق قربانی شکنجه و افراد دیگری که بنابر قوانین کشوری غرامت به انها تعلق می گیرد، جلوگیری نخواهد کرد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپانه یوازې د سرلیکنې ننگه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل :– ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :– ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :– ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل " احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com